محمد هارون خپل شعشعی

۲۵ فبروری ۲۰۱۳

## په افغانستان کي د یرغلګرو لښکرو
## د بشري ضد او جنګي جنایتو حقوقي شننه
## ۱۵

**بشري ضد او جنګي جنایتونه: د مقاومت ځبلو وسله**

تاریخي شواهد ښیي، چي استعماري لښکرو او د پردو په لاس روزل سوو جنګي ډلوټپلو له بشري ضد او جنګي جنایتو څخه زیاتره د اشغال سوو یا مقاومت کوونکو اولسو د ملي غرور، خپلواکۍ غوښتونکي روحیي او مقاومت ځبوونکي وسلې په توګه کار اخیستئ دئ؛ مثلاً المانیانو په لومړۍ نړیواله جګړه کي د بلجیمیانو د مقاومت ځبلو دپاره هر ځای دبلجیمي کلیوالو په وحشیانه وژنه لاس پوري کاوه. نازي المانیانو هم په دوهمه نړیواله جګړه کي د بیوزلو او بې دفاع کلیوالو له عامي وژني او ځوروَني څخه د مخالفینو د مقاومت ماتولو او ابل کولو په مخسد کار اخیستئ. که په نونسمه عیسوي پېړۍ کي د برتانوي استعمار و تاریخ ته وګورو له ورایه وینو، چي انګرېزانو هم د خپلي توري او کرغېړني امپراتورۍ په اوږدو کلونو کي د خپلواکۍ غوښتونکو غورځنګو د ډري وړي کولو، تضعیف او خپرولو په خاطر له دې وحشیانه تاکتیک څخه پراخه استفاده کوله. په افغانستان، د هند په نیمه وچه، افریقا او د لاتیني امریکا په ځینو هیوادو کي بې شماره انساني فاجعي ټولي د استعمارګرو برتانوي لښکرو د وحشتناکو جنایتو روښانه ثبوتونه دي. د وحشت او قساوت دې مثالو ښایي په ځینو هیوادو کي د یرغلګرو پوځو له استعماري واکمنۍ سره څه نا څه مرسته کړې یې؛ خو په افغانستان غوندي حماسه زېږوونکي خاوره کي نه پخوا څه نتیجه ور کړې ده؛ او نه به تر دې وروسته څه نتیجه ورکي. د امریکایي او ایتلافي لښکرو مشران باید په دې روښانه واقعیت ښه سر خلاص کي، چي د وطن، خپلواکۍ، دیني اعتقادو او فرهنګي ارزښتو مینه د افغانانو په ختّه کي اخښل سوې ده؛ او له څو جنایتکارو او خاینو مزدورانو چپه دا سپېڅلي ولولې تر اوسه پوري په ټولو رېښتینو او غیرتمنو افغانانو، په تېره بیا سرلوړو او زړورو پښتنو کي ژوندۍ او پیاوړي پاته دي. دا هغه مځکه ده، چي شازلمو او پېغلو یې په سربښندنو اوحماسو د زماني و هر فرعوني ځواک ته د سر په کاسه کي اوبه ور کړي دي. پر دې خاوره یرغل اسانه، خو روغ وتل ځني ډېر ګران کار دئ. له همدې سَوَبه ځینو حقپالو پردو مورخانو په خپلو اثارو کي دا نه تسخیرېدونکۍ ټاټوبۍ د فاتحانو او امپراتوریو هدیره بللي ده. نن ګورو چي د همدې غښتلي او پر شا نه تلونکي اولسي مقاومت له برکته د نړۍ د څه باندي څلوېښتو هیوادو یو سل و پینځوس زریز مجهز او عصري لښکر داسي ګنګس او سربداله دئ، چي د تښتي لار یې ورَکه کړې ده. یرغلګر پوځونه د جګړې او مقابلې په میدان کي د خپلو ښرمانه ماتو د تلافی او د مخالفینو و

وسله وال مقاومت ته د غیرمستقیم گوزار ورکولو دپاره د هیواد په بېلابېلو سیمو کي په شرمناکو انتقامي عملیاتو لاس پوري کیږي؛ کله د ملکي خلگو پر ودونو او جنازو بمباری کیږي؛ کله د شپې په نیمایي کي د مظلومو او بې دفاع کلیوالو پر کورو چاپې وهي؛ کله د وحشي ځناورو په څېر د مړو د بدن غړي پرې کیږي؛ کله یې پر وینلړلو جسدو بولي کیږي؛ لنډه دا چي کله په داسي او کله په هغسي بدوي جنایتو لاس پوري کیږي، چي حتا د دیرلسمي پېړۍ انسانان یې هم په لیدو او اروېدو شرمیږي. دا چنگېز ډوله جنایتونه سړي ته د افغانانو دا مشهور متل ور په یادیږي:« چي په خره یې زور نه رسیږي، نو تر پالانه یې زور باسي.» څه باندي یوولس کاله یې چېه او راسته غوبلونه وکړل؛ ډېر وچ او لانده یې وسوځل؛ خو بالاخره یې په قطر کي د مخامخ خبرو مېز ته ور و بلل. تروریزم، افراطیت دا او هغه تورونه گرده تر خاورو لاندي سول! پر دې ټولو ترخو او دردونکو واقعیتو سربېره، زموږ د مظلومو او بېوزلو خلگو ظالمانه وژني، ترټني او بې عزتی تر اوسه لا رواني دي.

په دې ترتیب، د ویتنام د« مي لای »، د عراق د حدیثي، فلوجي او ابوغریب او د افغانستان په بېلابېلو سیمو کي بې شماره بشري ضد او جنگي جنایتونه په واقعیت کي هغه وحشیانه عملونه دي، چي د خپلواکۍ مینو او وطندوستو اولسو د استعمار ضد مقاومت د ماتولو یا کمزوري کولو په خاطر سوي اوکیږي؛ خو استعمارگر دولتونه باید د گارډین ورځپاڼي د پیاوړي لیکوال - سیومس میلني **(Seumas Milne)** له علمي تحلیل سره سم د دې روښانه حقیقت و منلو ته غاړه کښېږدي، چي د یرغلگرو پوځو وحشیانه جنایتونه، ظلمونه او شکنجي په هیڅ وجه نسي کولای د اتلو او پر شا نه تلونکو افغانانو د خپلواکۍ غوښتني او وطندوستی لوړه روحیه کمزوري کي. برعکس د یرغلگرو لښکرو وحشت او بربریت د افغانانو و استعماري ضد مبارزو او حماسو ته لا نور قوت او پیاوړتیا ور بخښي.[۹۶] له هخامنشي کوروش او مقدوني سکندر څخه رانیولې بیا تر سره پوځ او اوسنیو ایتلافي قواوو پوري د هر پردي یرغلگر او اشغالگر ځواک په مقابل کي د دې غیرتي خاوري د توریالیو بچیانو اتلوال مقاومتونه او نه ماتېدونکي ارادې، گرده د دې تاریخي واقعیتو انکار نه کېدونکي ثبوتونه دي.

### د جنگ فشار او د پردو پوځیانو روحي ستونزي: نور وژل یا ځان وژل د روحي غوټو د خلاصون ناکامه لار

هر څوک د خپلو گټو او هدفو پر اساس و جنگ او بشري منازعاتو ته خپل خپل تعریفونه لري؛ خو د عموماً منل سوي تعریف له مخي، جنگ یاني انساني ناورین، د کورو، کلو او ښارو ورانېدل، د بشري تمدن او طبیعي چاپېر اوجاړېدل یا زیانمېدل، د ناامنی او بې باوری خپرېدل، جبري مهاجرتونه، لوږې، تندې، بېکاری، بې کوری، ډول ډول ناروغی، راز راز سیاسي، اجتماعي او فرهنگي قیودات او بې شماره نوري بدمرغی، چي لیست یې خورا اوږد دئ. که د بشري ضد او جنگي جنایتو اصلي مسوولین او مسببین یاني د یرغلگرو دولتو جنگ غوښتونکي مشران، جنایتکاري نژادي او مذهبي ډلي ټپلي او د وینو او اوښکو سوداگران ( تسلیحاتي مافیا ) له حسابه و باسو، د یرغلگرو لښکرو په شمول هیڅوک له جنگ او تباهی څخه و را پیدا سوو ناورینو او کړاوو ته بې توپیره نسي پاتېدلای. د زور او وحشت مدعیان که د استعمارځپلو خلگو پر وینو، اوښکو او ساندو تندی هم تریو نه کي، لږ تر لږه د خپلو همسنگرانو و مرگ و ژوبلي، غم او درد ته **په عادي سترگه نسي کتلای**. که څه هم د استعمارگرو لښکرو انساني تلفات په هیڅ ډول د افغانستان یا نورو استعمارځپلو هیوادو د بېوزلو او بې دفاع خلگو له سرساموونکو تلفاتو او خساراتو سره د **پرتله کېدو وړ نه دي**؛ خو سره له دې هم دا حقیقت له هیچا پټ نه دئ، چي په روانه استعماري جگړه کي زموږ پر ربړېدلو او بې دفاع خلگو سربېره د امریکایي او ایتلافي عسکرو ویني هم تویېږي؛ زموږ د بې گونا او کړېدلو هیوادوالو په شان د هغو وکورو ته هم د خپلو عزیزانو جنازې ورځي؛ د هغوی ښځي او اولادونه هم زموږ ښځو او بچیانو غوندي، بې

خاونده او بې پلاره پاتېږي؛ د هغوی پوځیان هم زموږ د مظلومو او جنګ ځپلو خلګو په څېر د جګړې په اورو او لوخړو کې د وجود غړي له لاسه ورکیي...
د جنګ د بېلابېلو مصیبتو او ناخوالو د دې لنډې یادونې مخسد دا دئ، چې د ځان او ملګرو بدې ورځې، له کور او عزیزانو څخه لیرې والی او د جګړې د دردونکو حالاتو نه زغمونکې کړوانه هرومرو د امریکایي او ایتلافي لښکرو په عسکرو او منصبدارانو کې د عصبانیت، سرکښی، زورزیاتي، انتقام اخیستني، بیرې او نامېندی روحیه زېږیي، چې وروسته د جګړې د رنګارنګ فشارو په زیاتېدو سره نوره هم پیاوړې کېږي. د ډان ډیوالټ د ارزښتناکې شنني په تأیید، د استعماري یرغلو دا نتیجې او پیداوار هغه مهال لا پسې کرکجنه او تاوجنه بڼه اخلي، چې د جګړه ماروکړییو زهرجن تبلیغات او ملاتړ هم ور سره ملګري سي؛ ځکه په زهرجنو سیاسي، مذهبي او نژادي تبلیغاتو لړلي پوځیان د خپلو بادارانو د استعماري نخشو د تحقق دپاره له هیڅ راز جرم او جنایت څخه مخ نه اړیي.[٩٧]
په داسې شرایطو او حالاتو کې نو د بې ګونا افغانانو، په تېره بیا خپلواکی مینو او سرلوړو پښتنو وحشیانه وژنه، د چنګېزیانو په بڼه یې د کورو او کلو ورانول، د طالب او القاعدې په نامه یې د زړو، ځوانانو او حتا کوچنیانو بندي کول او شکنجه کول، د عقیدې او انساني کرامت د سپکاوې دپاره یې د سپېڅلې کتاب سوځل، د مړو بې حرمته کول او داسې نور فجیع عملونه، قطعاً د اریانی او تعجب وړ نه دي. زموږ آګاه لوستونکې خبر دي، چې امریکایي یرغلګرو د ۲۰۰۴ع کال په نومبر کې د ځلورو امریکایي قراردادیانو د وژلو په ګونا د عراق د فلوجې ګرده ښار په لوټو او کنډوالو واړاوه؛ له اور لګونو بمونو او نورو کېمیایي وسلو څخه یې کاروا‌خیستئ؛ او د ماشومانو په ګډون یې د هغه ښار له ملکي خلګو سره جنګي جنایتونه وکړل.[٩٨] د عیني شاهدانو او سیمه ییزو خلګو د مستندو خبرو او مرکو له مخې، د ۲۰۱۲ع کال د مارچ پر یوولسمه نېټه د کندهار د پنجوایي اولسوالی د زنګاوات خونړی ناتار هم د یرغلګرو پوځیانو د ظالمانه کسات اخیستني نتیجه وه. د زنګاوات ځینو سپین ږیرو له مزدور او بې ضمیره کرزي سره په خبرو کې برالا وویل، چې د زنګاوات تر ناورین څو ورځې مخکې د امریکایي لښکرو یوه زغرواله وسیله د پنجوایي اولسوالی په یوه بل کلي کې د طالبانو په یوه ځای پر ځای سوي بم کې والوزول سوه. په دې بمي چاودنه کې ځینې امریکایي عسکر مړه او ځینې ټپیان سول. امریکایي پوځیانو ته د دې پېښې په تور هیڅوک په لاس ور نغئ؛ ځکه یې نو د څېرمه کلي و ځینو اوسېدونکو ته په خښم او قهر وویل: یوه ورځ به هرومرو د دې مرګ ژوبلي درنه بیه ادا کئ! ریشتیا هم څو ورځې وروسته رابرټ بېلز او د هغه امریکایي کاوبایانو د همغه زنګاوات په دوو نوروکلو کې نه له شمله ورو جنګیالییو، بلکې تنکییو کوچنیانو، پاکلمنو خوندو او ناتوانه پلرو څخه په نامردی او بُزدلی کسات واخیستئ! او په دې توګه یې د ناملومو کسانو په ګونا د بین المللي حقوقو، جنګي تعاملاتو او بشري اخلاقو پر خلاف و دوو بېلو کلو، بلکې ټولو خپلواکی غوښتونکو او باغروره افغانانو ته جمعي جزا ورکړه! امریکایي کاوبایانو د ظلم او وحشت په دې کرکجن عمل سره یو پلا بیا ثابته کړه، چې زموږ و استعمارځپلي خاورې ته نه د سولې، امنیت، خپلواکی، اولسواکی، بشري حقوقو، ترقی او سوکالی، بلکې غچ اخیستني او استعماري نخشو دپاره راغلي دي.
رابرټ بېلز او ملګرو ته دې خبرې هیڅ ارزښت نه لاره، چې ولې د مقاومت د ناملومو جنګیالییو په تور زموږ معصوم کوچنیان، ښځې او سپین ږیري تر تېغ تېرېږي؛ په وینو لړلي جسدونه یې په اور کې سوځي؛ او د بې عزته کولو هڅه یې کیي. دې جاني او ملګرو ته یوازې دا خبره مطرح وه، چې له افغانانو څخه د خپل ټانګ د الوزولو او خپلو وژلو یا ټپي سوو ملګرو کسات واخلي. تنکي ماشومان یې ځکه په مردکو او برچو سوري سوري کړل، چې و هر یوه ته د سرکښه مقاومت د راتلونکو جنګیالییو په سترګه ګوري. خور، مور او پلار یې له دې کبله په وینو کې لت پت کړل، چې ولې یې یاغي زامن زېږولي دي. داسې سرسخته او نه اېل کېدونکي زامن، چې د هیچا و باداری او فرمان ته غاړه نه ایږدي. لنډه دا چې یرغلګرو لښکرو ته په داسې مواردو او حالاتو کې ګرم او ناګرم، کوچنی، ښځه

او سپین زیری هیڅ فرق لري. د هغوی د فرعوني او استکباري منطق له مخي هر هغه څوک د ډله ییزي وژني او نورو شیطاني جزاوو وړ دي، چي په یوه یا بله بڼه د استعمار ضد مقاومت له مخالفینو سره تړاو ولري. په افغانستان، عراق او نورو استعمارځپلو هیوادو کي د داسي بشري ضد او جنګي جنایتو شمېر لږ نه دئ، چي یوازنی انګېزه یي له ځایي خلګو څخه د یرغلګرو پوځو انتقام اخیستنه وه. دا انتقام اخیستنه، زورزیاتي، عصبانیت او داسي نور ټول په واقعیت کي هغه پېښي او پدیدي دي، چي د استعمارګرو دولتو له یرغلګرو جنګو او تېریو سره مستقیم ارتباط لري.

لکه څنګه چي مخکي یادونه وسوه،د دې ټپل سوي استعماري جنګ لمبو نه یوازي و مظلومو او کړېدلو افغانانو ته د سر او مال درانه تاوانونه اړولي، بلکي امریکایي او ایتلافي پوځیان یي هم بې اغېزي نه دي پرې ایښي. په یرغلګرو لښکرو کي زیاتېدونکي ځان وژنه او ډول ډول نور روحي ربړونه ګرده د دې انساني ضد تېریو او تاړاکو نه بېلېدونکي نتیجي دي. د یوې احصایي له مخي د ۲۰۱۲ع کال په لومړیو اوو میاشتو کي د امریکا په اردو کي یو سل و شپاړسو ( ۱۱۶ ) بر حالو عسکرو ځانونه وژلي دي.که د ځانوژنو شمېر تر ډیسمبره پوري په همدې ګچه روان یي، ښایي کلنی شمېر و دوو سوو( ۲۰۰ ) ته ورسیږي؛ په داسي حال کي چي د ځانوژنو دا کلنی شمېر په ۲۰۱۱ع کال کي یو سل و اووه شپېته ( ۱۶۷ ) ؤ. البته، ځانوژنه نه یوازي د متحدو ایالتو په اردو، بلکي د هغه هیواد په بحري او هوایي قواوو کي هم مخ پر زیاتېدو ده. بحري قول اردو په تېر جولای کي اته( ۸ ) انتحاري مرګونه لرل؛ حال دا چي دا شمېر په جون کي شپږ( ۶ ) ؤ. په همدې پوځ کي تر اوسه د سږ کال د ځانوژنو شمېر و دودېرشو( ۳۲ ) ته رسېږي، چي د تېر کال( ۲۰۱۱ ) له کلني شمېر سره برابر دئ. هوایي قوا په تېر جولای کي شپږ ( ۶ ) انتحاري مرګونه لرل. دا شمېر په جون کي دوه ( ۲ ) ؤ.[۹۹]په ګلوبل ریسرچ کي د یوې بلي احصایي له مخي، په افغانستان او عراق کي د امریکایي پوځیانو د هري مړیني تر څنګ پینځه ویشت ( ۲۵ ) نور عسکر ځانونه هم وژني. د ۲۰۱۲ع کال په لومړیو شپږو میاشتو کي د اوردو ( ۱۸۷ )، د هوایي قوا( ۵۵ )، د مرین قول اوردو( ۳۲ )، د بحري ځواک ( ۳۹ ) او د ساحلي ساتونکو( ۵ ) غړو ځانونه وژلي دي. د پوځیانو چارو وزارت په ورځ کي د ( ۱۸ ) انتحارونو او د هر انتحار ترڅنګ د ( ۲۰ ) انتحاري تشبثو یا هڅو ادعا هم کړې ده.[۱۰۰]

د متحدو ایالتو په وسله والو ځواکو او نورو ایتلافي لښکرو کي د دغه ډول ځانوژنو، بل وژنو او راز راز روحي ناروغیو لوی علت په حقیقت کي د بې ګونا اولسو پر خلاف د ظالمانه جګړو په اورو او لوخړو کي برخه اخیستنه ده، چي فشارونه او عکس العملونه یي په دې یا هغه بڼه ځرګندیږي. همدا وجه وه، چي د ۲۰۱۲ کال په مې کي د عراق او افغانستان د جنګ ځینو امریکایي پوځیانو د خپلو جګړه مارو سیاسي او عسکري مشرانو له انساني ضد سیاستو سره د کلک مخالفت په بڼه خپل پوځي مډالونه پر مځکه وغورځول. هغوی اعتراض کاوه: د خلګو زړونه او مغزونه تر هغه مهاله نه ګټل کیږي، چي پر کور یي د شپې چاپې رواني یي.[۱۰۱]

---

**لمنلیکونه**

[96] Seumas Milne, **“Massacres are the inevitable result of foreign occupation”**, guardian.co.uk, Tuesday 13 March 2012:
http://www.guardian.co.uk/commentisfree/2012/mar/13/massacres-result-of-foreign-occupation

[97] Dan DeWalt, "**American Atrocities: Not Who We Are? Really? So Then Who in the Hell Are We?** ", Information Clearing House, n.d.: http://www.informationclearinghouse.info/article31262.htm

[98] **——, "Fallujah, The Hidden Massacre",** From Wikipedia, the free encyclopedia: http://en.wikipedia.org/wiki/Fallujah,_The_Hidden_Massacre

[99] ——, "U.S. military suicide rate doubles for July", **CBSNEWS, August 16, 2012**: **http://www.cbsnews.com/8301-201_162-57494963/u.s-military-suicide-rate-doubles-for-july/**

[100] Tanya Cariina Hsu, "**Was it worth it? Afghanistan 11 years later**", October 08, 2012, Global Research: http://www.globalresearch.ca/was-it-worth-it-afghanistan-11-years-later/

[101] **——**, "**Iraq, Afghan War Vets Toss Away Their Medals**", 5 NBC CHICAGO, Monday, May 21, 2012: http://www.nbcchicago.com/news/local/Iraq-Afghan-War-Vets-Toss-Away-Their-Medals-152219535.html

پاته په وروستۍ برخه کي